# پاک داغونه



پښتو شعري مجموعه

اکمل اعلام

پاک داغونه

اکمل اعلام

۱۴۰۱

# Paak Daghoona

2022



Collection of Pashto Poetry

Akmal Elam

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

- د کتاب جمله حقوق د ليکوال سره خوندي دي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب د سافټ کاپي د لاس ته راوړلو لپاره لاندې
بریښنالیک سره په اړیکه کې شئ.
info@elam.international



او یا هم لاندې کیو آر کوډ سکن کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فلسفي احساس

اعلام د خپلې ژبې اعلان په سريزه کې پخپله کړی،
نو زه به يې پريږدم اعلام او نورو ژبورو ته.
د شعر او ادب د يو مصرفوونکي په توګه د اعلام کلام کې فلسفه او احساس سره نغښتي وينم. د اعلام او دنيا رقابت وينم چې کله يو او کله بل د پاسه دي. که ورته خپل اصل بې خونده دی خو بيا توقع لري چې ژبه او دستور به يې ښه شي. د سوځوونکو سترګو سيزل له سکروټو غواړي. خپلو پيچلو خبرو ته ګډې وډې وايي. له خپل غروره هم بيزاره ښکاري. ډيری د رنځ غرېږي او له ځانه مرور وي خو بيا هم دا خپل سکون ګڼي.
لنډه دا چې عجيبه يې فلسفه ده عجيبه غوندې يې کينه ده.

لوستونکي د اعلام فکري ژورتيا ته رابولم.

په مينه
ډاکټر پرتمين منلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهدا

زمـا دا ځــو بيتــونــه ځــو خبرې
ځــه ګــډې وډې ځــه پښتـو خبرې
همـه اهـــدا دي ستـا شباب ته ياره
د عشــق د ســوو اســويلــو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د ځینو دوستانو په آند زما پښتو لیکنې درنې دي ځکه چې زه کله شعر لیکم نو د مطلب د رسولو هڅه کوم. د لغاتو او کلمو غم یې نه کوم. خو ځیني دوستان بیا دې ته یوه نوعه آزادي او بې باکي وایي. زه هم ورته همدا وایم. زه نه غواړم په ژبه کې دومره بند شم هغه څه چې غواړم ولیکم، له مجبوریته ورته یو لغت پیدا کړم. څه مې چې د پښتو سره په مروجو ژبو کې زده وي لیکم یې او په اردو، فارسي او عربي یې ډېر فکر نه کوم. زما په آند زما د عصر باسواده ځوانان په دې ژبو کې مشکل نه لري. له بلې خوا زه خپله هم پښتو کې دیر تکړه نه یم همیشه مې په انګریزي ژبه مطالعه کړې او فکر مې اکثر په تخنیکي مسایلو کې بوخت وي. نو که د یوې خوا دې نوښت ته آزادي ووایم نو له بلې خوا به ورته مجبوریت هم وایم.

زه آزاد نظم هم په وزن لیکم. زما شخصي نظر دی چې شعر هغه چې ترنم شي نو که زه یې خپله زمزمه کوم نو باید وزن ولري. اګرچه د ځینو نورو ژبو په ادبیاتو کې لکه هندي کویتا بیا بې له وزنه هم کمپوز کیږي. خو زه چون پښتو لیکم نو وزن یې خامخا نظر کې نیسم.

یوه بله خبره چې ما په پښتو ادبیاتو کې لیدلې ده هغه دا ده چې زمونږ ادبیات ډیر ادبي دي او یا هم ډیر عادي دي. یا د لویو شاعرانو ادبیات دي او کره پښتو ده او د ګرامر له لحاظه اشتباه هم پکې نه لیدل کیږي. حتی په شعر کې. او یا هم د لارو ګودرو شاعران دي چې هغه خپل حال په عادي لغاتو کې رانغاړي او شعر ترې جوړوي. خو د عامې پښتو لپاره زمونږ په خوا کې کم کار شوی. لهجې نه دي منظومې شوي. ورځني اصطلاحات په شعر کې کم لیدل کیږي. کلیواله ژبه او ښاری ژبه پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمه لیدل کیږي. خو زه په خپل نظم کې داسې کوم حدود نه لرم. اګرکه دا د ځینو ادیبانو په آند بې ادبي وي. ولې زما نظر دا دی چې شعر زما وي نو ژبه دې هم زما وي. هغه که لهجه وي او که خارجي کلمات.

په آخره کې یوه بله خبره زیاتول غواړم چې په ما د کوزې پښتونخوا د شاعرانو او ادیبانو تاثیرات شته او هغه زما له شعره څرګند دي. زما لپاره پښتو یوه پښتو او لهجې ټولې خوږې دي. نو ما دا حدود هم تقریباً مات کړي او په ځینو ځایونو کې رانه کوزه لهجه کارول شوې چې کله د وزن تقاضه ده او کله زما خپله خوښه.

دا کتاب پاک داغونه زما د طالبعلمانه پښتو ادب دریمه هڅه ده چې دوه یې پخوا خپاره شوي. هیله لرم چې هر بیت د هر پښتون د زړه ترجمان وي او هره مصره د پښتو ادب ته یوه ډالۍ وي. هر ډول نقد او اصلاح مو په سر سترګو.

په درنښت
اکمل اعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پاک داغونه

د انتظــار لحظې کلــونــه میاشتې
میاشتې کلــونه یې قــرنــونه لګي

لـــه اضطرابـــه وتل قهرِ خـــدا
پکې بــودن تــه بلا زړونـــه لګي

زمــا پــه مینه خندا راســه نــه شوه
وصل و دیــدار مې بــدشګونه لګي

مـــا پــه جفـــا هم کبر نـــه دی کړی
وفـــا مې ظلم نـــه مصئــونه لګي

زمـــا حیـــات زمـــا بقـــا به څه وي
یـــوې خنــدا تــه دې مدیــونـه لګي

ما تــه چې ګورې نــو خنـدا مه کوه
په پـاک دامن مې پـاک داغونه لګي

ته پــه بیــداره خوبــولی بنــکارې
زمـا پـه خــوب کې شوګیرونه لګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا له کجلو مې رنګ تور واووخته
او ستـــا سرخي زمـــا له خونه لګي

ستـــا تکبـــر پـــه چشم ســـر منمه
درتـــه مې درستـــه انـــدامونـــه لګي

د ځو لحظو دیدار کې نه ښکاريږي
د اعـــلام سترګـــو تـــه کلونـــه لګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رقابت

لکه زما او د دنیا چې رقابت وي سره
کله پرې زه د پاسه کله بیا په ما د پاسه

کله یې وګټمه و یې خورمه ویې لوبُوم
کله مې جیګ کړي او راخلاص مې کړي دې ځمکې لره

کله یې ښکل کړمه ما ښکل کړي سره غاړه وزو
کله د ټولې دنیا سپکې سپورې وکړو سره

دا دشمني زمونږه ډیره عجیبه شان نه ده
دنیا په دې قد و هیکل ما ته تکړه ده صرف

که دا تکړه وي دا دې بله دنیا و آزمایي
زه یې کمزوری پیدا کړی یم چې داسې کوي

خو ما لا هم ورته یوه کمه وییلې نه ده
ورلاندې وتی یم ګټل بایلل به وروسته ګورو

اوس دا مهمه ده چې یو هم لا بایللې نه ده
خو د اعلام د رب په فضل به یې زه ګټمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اصل

نــه پــه ځــان يې نــه پــه ما يې
نــه پــه دين نــه پــه دنيــا يې
نـــه پـــه ګټـــه د اشنـــــا يې
نـــه وفـــا يې نـــه جفـــا يې
ای زمـــا اصلـــه بې خــونــده

پـــه نـــامـــه د غيـــرت ورکه
د کاذب عـــــزت ملـــکـــــــه
بې مــــرام بې تحـــــرکـــــه
لـــه خپـــل اصلـــه بې درکــه
ای زمـــا اصلـــه بې خــونــده

د اغـيـــــــار د لاس اوزاره
غلامۍ کــې خـــودمختـــاره
لــــه غروره بـــرخـــورداره
د جـــابـــر رقيب ريبـــاره
ای زمـــا اصلـــه بې خــونــده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پــــه تـــا مې افتخـــار وو
چې ســـر خمی پرې اغیار وو
پـــه جهـــان مې اعتبـــار وو
پـــه دا شــــان نـــاپـــایـــدار وو
ای زمـــا اصلـــه بې خـــونـــده

زمـــا نـــوم زمـــا نشـــان څه
زمـــا قـــدر زمـــا شـــان څه
زمـــا ژونـــد زمـــا ارمان څه
تـــا تـــه یـــو نســـل تاوان څه
ای زمـــا اصلـــه بې خـــونـــده

اوس بـــه څـــه وایم چې څـــه یم
لا افغـــان یمـــه کـــه نـــه یم
در پـــه در سر پـــه راغـــه یم
د اعـــلام لپـــاره شتـــه یـــم
ای زمـــا اصلـــه بې خـــونـــده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پښتو

ژبه مې ښه ده خو دستور مې بد دی
د وجود غړي مې تقسیم شو پکې
په خوله ځاریږم قربانیږمه زه
په اوږه ډک ټوپک تیار ساتمه
زړه کې بلا د بې خوندۍ خبرې
ذهن کې قصد د دشمنۍ د بدل
ځیګر مې ژبې ته صادقه ښکاري
خو صداقت مې هم تر ژبې پورې
په لاس د لور په سر پیسې اخلمه
په خپو ولاړ یمه دستور پالمه
په غوږ یې اورمه خو زړه ته نه ځي
د ابادۍ د خوشالۍ خبرې
په سترګو وینم چې دنیا چرته ده
او زه د ژبې او دستور په مینځ کې
کله خپه کله خوشاله یمه
خو تربورانو ته یې نه ښایمه
په شوندو تل مسکا قایمه ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما نرتوب که په کنځلو کې دی
نو ښځه توب مې د ظلمونو ګالل
چې زه به نر يمه که نه به يمه
چې زه به ښځه يم که نه به يمه
زما د علم سره بد نشته دی
خو له حصوله يې لږ پاتې يمه
دين و مذهب مې ورثه ده تړوله
چې مې ليدلي هم هغه کومه
زه به بدل نه شم ګمان کومه
زه خپل دستور داسې تړلی يمه
خو د راتلونکې توقع د اعلام
ژبه دستور به دواړه ښه شي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کابله

تــه در په در شوې زه دې ولې در پــه در کړلمه
چې خدمتــګار دې ومــه ولې دې بهــر کـــړلمـه
چې يې پــه تــا کــړي همــاغه دې په ما کړي دي

ستا يې بيرغ کوز کړو زما شمله دې ښکته کړله
ستــا نــوم زمــا انــا يې بــده بې مهلتــه کــړلــه
پــه هــر نفس کې مې خيرې ورته بلا کــړي دي

چې ته په مــا نــازيــدې زه ستــا پــه بقــا نازيدم
لکــه چې تــه درديــدې داسې درتــه زه کــړيدم
غمــاز نخــرې زمونــږه دواړو په وفـا کړي دي

زه خــو نــاشــکره نــه وم ولې رانــه پاتې شولې
زمــا د عشق خـــبرې ښې درتـــه اثبــاتې شـولې
کــه چا پــه ما کــړي شکــونه يې بيجا کــړي دي

مــا د ژوندون هــره لحظه لــه تا لوګي کړه
خو په نظر شوې زندګي دې راته ښه ستي کړه
ګــرم نه يم تــل مې ننــدارې ستــا د بقـا کړي دي

زمــا نظــر کې ستــا مقــام راغــورځيدلی نه شي
زما له زړه دې څوک په هيڅ ډول ويستلی نه شي
ما ستــا پــه نوم د خپل حيات تمامې خوا کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې دا ولې ابـــداً پـــه امـــن نـــه وينـــمـــه
هــر څــه كــومه خــو ګمان چې هيڅ هم نه كومه
دې معما تــه خدايګــو چــا دا بــد دعــا كړي دي

مخکې لــه دې چې زه په خــاوره کې در ونغاړمه
دا مې ارمــان دی چې پــه ژونــد دې اباد ووينمه
اعـــلام سهر غــرمه ماښــام دغه دعا كــړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاک زړه او پاک داغونه

پـــاک داغــونه مې په پـــاک زړه لګیدلي
تحـــریمونـــه پـــه بې بـــاک زړه لګیـــدلي

دا زمـــا عقـــل و ذکـٰ وه چې ډارونــــه
د اغیـــارو په سفـــاک زړه لـــګیـــدلي

ستـــا مغرور زړه کې نفـرت خــو اثرونه
یې زمــا پــه خــوار و خــاک زړه لګیدلي

یــو څـه پاک داغونه ښه په پاک دامن دي
څـــه دردونـــه پـــه دردنـاک زړه لګیدلي

زمـــا سترګې ستا په ستــرګـــو، ستا خبرې
جـــوړ زمـــا په شـــرمنـــاک زړه لګیدلي

ستـــا د مِهر و محبت ټـــولې نـــادودې
د اعـــلام په پـــاک و ســاک زړه لګیدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې وختــه اضطراب

اى د نيــمې شپې شــوګيـــره
اى بې وختـــه اضطـــرابـــه
يـــــــاده بې منــــاسبــتـــه
اى د سپينـــو غـــرمو خــوابه
اى د اوښکـــو بـــارانـــونـــو
اى دلـــــــدرده لا جـــوابـــه
اى د غـــــم داد و ستـــــــده
اى د عشـــق حســاب کتــابه
اى د ستـــورو لښـــکرونـــو
اى د دوو ورځـــو مهتــابـــه

مـــا به کلـه پرېږدئ خوب ته
زه بــه کلـــه پـــه ارام شــم
تـــر هغې مې کـــړوئ چې
خپلـــه ورک لکـه ماښام شم
تـــــاريـــکي بهـــر دنــنـــه
زه د ستـــورو هم کلام شـــم
لـــه سهره تـــر مـــاښـــامـه
لـــه ماښـــامه بيـا تر شام شم
يـــا دې خوب راشي ليمـو ته
يـــا دې زه ورنـــه تمـــام شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

يــوه ورځ خــو به عادي شي
دا فكــرونــه دا ســوچــونه
ستـــا د جبــر جنجـــالـــونه
ستـــا خـــوا ږه تراخه يـادونه
د ژونـــد سختي بـدې ورځې
بې مـــودې امتحـــانـــونـــه
د فـــراق لمحې بې خـــونـده
او د وصـــل ارمـــانـــونـــه
دا د شپـــې د ورځې نـــاستې
دا د هـــر انـــدام دردونـــه

خو دا هم ګـــوره ګـــونـــا ده
چې پـــه طمـــه د عـــادت يم
د رب لـــويې بـــرنـــامې دي
زه بـــــه هم يـــو مصلحت يم
راتـــــه ښـــــايي آمـــدونـــه
زه اختـــه پــه خپل وحشت يم
يــوه ورځ به هر څه سم شي
زه بـــه يم زه بـــه راحت يم
او كـــه نــه يمـه هم خير دى
طلبـــګار بـــه پـــه قيامت يم

خــو عجب غوندې حيات دى
د اعـــلام پكې زړه مات دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ذره برابر

اوس نو سکروټې راپیدا کړه چې مې وسوځوي
جانـــانــه ستــرګــو کې دې هغه اثــر پاتې نه دی

مــا به نــارې ســورې وهــلې د زوال د حســن
آخــر مابښــام شو ګوره نور دې سهر پاتې نه دی

ستــا ستمونــو داسې وزبیخــلــم وچ يې کــړمــه
ګمــان چې مینې ته دې مــا کې صبر پاتې نه دی

زه تــر حــدودو د الفــت داســـې در واوخــتــمــه
پــه عشق کې مــا لــره کوم حد فراتر پاتې نه دی

زمـــا او ستـــا مینه جنګــونه جوړ تمام ښکاريږي
په زړه کې زور عاشقي مینـــه يـا شر پاتې نه دی

مــا نــه پــه عشق کې تــوقع نــوره عبث ده يـاره
اعــلام کې صبر نــور ذره بــرابــر پــاتې نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وصال عاقبت

نــاز ادا دې پـــه ســـر ستـــرګـــو تـــر قيـــامته
خـــــو قيـــــامت مې د وصـــال تـــر عـــاقبته

تـــه زمـــا د زړه نـــه څـــه خبـــر يې چپ شـــه
هـــر پيغـــــور راوتی ستـــــا لـــــه خيـــانتـــه

د اغيـــارو جـــامعـــــه او ستـــــا يـــــادونـــــه
څـــــه بـــــه جـــوړ شي لـــــه منفي او لـــــه مثبته

دا دعـــــا چې تـــــه زمـــــا شې او زه ستـــا شـــم
زه بــــه څـــــه شم تـــــه بـــــه څه لـــــه دې وحــدته

چې دې نــــوم واورم لمبـــــه مې شي سينـــه کې
مـــــازغـــــه وســـــوځي د زړه لـــــه حـــرارتـــه

يـــا يې ښه کـــړه يـــا يې نه، تکيف روښن کـړه
راځـــــه تيـــر شـــــه نـــور اشنـــا لـــــه سيـــاسته

کـــه تـــول عمر شي پـــــه عمر بـــانـــدې ارزي
څـــو لحظې ستـــــا لـــــه وصـــاله تـــر رخصته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــا په مينـــه عمـــدي فـــــراق رواج كـــــړ
صــــد هـــــزار ځلـــــه تـــوبه لـــه دې بدعتـــه

د دنيـــا روزګار بـــه هم ســــره چلـــيـــږي
چې بيـــكاره شي اعــــلام ستـــــا لـــــه صفته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خندا ژړا

توله یاري خواري زاري په تا تمامه شوله
اوس چې هر څومره ښکلي وینم زړه ته نه کوزیږي

داسې رنځونه مې زړګي ته غورځیدلي اشنا
نه په فراق نه په وصال نه په دوا رغیږي

غم هغه غم درد هغه درد وي چې دې وخندوي
چې پرې ژړیږي غم یې غم نه دی عبث ژړیږي

ستا تکبر به مې اخر دا زړه راوپړسوي
بیا به نفرت او محبت سره یوځای ختمیږي

زما د کلي نه توبه ده ښار ته ته مه راځه
دنیا وړه ده خو که راشې په ما لا وړیږي

یوه دنیا مې جوړوله بې له تا جانانه
ولې رادرومې ګورې نه چې مې دنیا ورانیږي

داسې یې ورک کړم له وطنه چې ورتلی نه شمه
اعلام ته هر ساعت وطن وطن وطن یادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داد ستد

دا نــه وصــل نــــه فــراق دی
نــــه دوري نـــــه نــزديکي ده
مخــــامخ يې خـــو نــه ښــکارې
زړه کې يې خــو زړه کې نه يې
عجــيبـــه بـــې ثبــــاتي ده
عجيبـــــه غــونــدې کيفيت دی
نـــه يـــوازې نـــه محفـــل کې
چې دا زه ورک يم که زه ورک
تمـــرکـــز مې په ژوند ډير دی
تمـــرکـــز کـــولی نـــه شم
د زړه هيـــلې مې بـــــلا دي
خـــو يـــوه مې پـــکار نـــه ده
زړه مې تـــور لــــه داد ستـــده
ولې سپيـــن دی ښتـــتيــــدلی
ښـــه پـــه هوش ښه پـــه حواسو
کې مـــدهوشــــه يم بې هوشــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــه خنــــدا کې مې دردونــــه
پــــه دردونــــو کې مســــکا ده
دا زمــا خبــرې نــــه دي
خــو خبــرې دا زمــــا دي
دا احســاس پــه مــا کې نشته
خــو ډيــر ښه يې حس کــومه
ژونــد يــو داسې معمــا شــوه
د اعـــــلام د زړه خبـــــرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورکه

کـه پـه عـرف کـه پـه ایمان دي
بس ظاهـر دې دوه چشمان دي

زمـــا ورکې تـــه کافـــي دي
کـــه مخفي دي کـــه عیـان دي

رواجـــونـــه مې دښمـــن شـــو
تـــــر خلـيــــجه راروان دي

ستـــا پـــه ستـــرګو مې نظر دی
رانــــه پـــاتې ګـــون و کان دي

زمـــا درد زمـــا جنـــون تـــه
ښه کافي ستـــا دوه اعیـــان دي

ګـــومان کـــړم تاثیـــر یې یو وي
کـــه پـــه فارس که په افغان دي

ستـــا خبـــرې مې تر غـوږ دي
کـــه ګلاب دې پـــه زبـــان دي

پـــــه پـاییـــز د وصـــل نخښې
بهــــــاران دي بهـــــاران دي

زه دې ولیـــــدم پـــــوهیــــــږم
خو د زیست فکرونه ګران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیـــا لحظې هســــې د و صــل
د اعـــــلام د زړه ارمــــان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عشق کیفیت

عــاشقۍ کې بیــا عــاشق شــوم
پــه فــراق کې بیــا جــدا شــوم
مســــافر مســــافرۍ کـــې
پــه رنځــونــو کې رنځــور یــم
پــه خنــدا کې بیــا خنـــدا شــي
پــــه ژړا کــــې ژړا راشي
خوب کې خوب وینم چې خوب دی
او پـــه ویښـــه کې بیـــــداره
ولـــړه تنـــده ســـره ګـــډه
نـــه پـــه ولـــړه نـــه پـــه تنـــده
پـــه وصـــال کې مې یـــادیـــږې
پـــه خیـــالـــونـــو کې خیـــالونـــه
دا زه څـــه بـــانـــدې اختـــه یـــم
دا لا څـــرنګـــه کیـــفیـــت دی
لیـــونتـــوب کې لیـــونی شـــم
او پـــه حـــال کې نـــابغـــه شـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ضد نقيس وضعيت دی
داسې ګډه زندګي ده
چې اعلام پکې درغل دی
د جانان به لا څه حال وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پوښتنه رانه وکړي چې په څه باندې کړېږې
نـــو په څـــه به وکـړېږم که پوښتنه رانه وکړي

ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګيله او شکر

يــو څــو ګيلې لــرمه ربـــه چې يې وکــړم کــه نــه
خلکــو ټــاپې لاس کې نيولي چې کافَر مې نه کړي

څوک مې د قــام په نــوم رټي څوک د نشان په نامه
وايم چې قــام نــام و نشـــان نـــه رابهر مې نــه کړي

ستــا تکبــر پـــه چشمِ ســـر، خـــو د بنــده تکـــبر
وايي زوال لـــري زوال تـــه بــرابــر مې نـــه کړي

ستــا لـــه قــدرتــه شم لوګی خو زه دې خپلې روزۍ
له ملکه ورک کـړم په پردو درونو سر مې نه کړي

ستــا د بنــده سيـــاستـــونـــو نـــه مې کــرکــه کيږي
لـــه جهالــتـــه مې لـــوګی نه کـړي نظر مې نه کړي

زمـــا خدمت تـــه خلک نـــوم د خيــــانت ورکـــوي
هسې نه ځان غوندې له خلکو نه منکر مې نه کړي

زما ګيلو او د اعـــلام شکـــــر کې څـــه تـــوپير دی
زه بـــه تــر هغې ګيـلې کړم چې بختور مې نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## باغي جنون

لــه زيستــه كلــه كلــه گــريــزان شم بې سببــه
روزگار هسې بيــزار كــړم د اشنـــا د چشم و لبه

دا كــربنې د تقــدير دي كـــه نماد د زحمتــونــو
ولاړ يمـــه آييــن تـــه معجب لـــه تيـــره شبـــه

زما بـــاغي جنـــون زمـــا وجـــود ســـره ختميږي
اگـــر كـــه رسيـــدلی مې ميـــراث لـــه جد و ابـــه

عجب غونــدې تقسيم دی ولې دواړه پـرې راضي يو
تـــه خوښ يې پـــه خنـــدا، زه پـه ژړا، څومره عجبه

هـــرڅـــومره كـــه بالا شي زه او تـــه ســـره پوهيږو
راپـــريوتې اشنـــا زمـــا د ستـــرگـــو لـــه منصبـــه

كـــه مينـــه وه كـــه درد وو كـــه وصال وو كه فراق وو
دا ټول دي په نصيب شو چې نور څه غواړې له ربه

پـــه نيش د مِهر و لطف و مـــرحمت دې درديـــدلـــی
نـــور وهم څـــه او ډار څـــه ستـــا د حسن لـه عقربه

يـــا ښه پاكـــه پښتو وايـــه سويـــه د اعـــــلام وينـــه
يـــا تيـــر شـــه د اغيـــارو پـــه لهجه لـــه دې ادبـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موقعیت

دا بـــه هم تیـــر شي جـانـــانـــه
لکـــه تیـــر وختـــونـــه تیـــر شو
زه پـــــه اوج د زنـــــدګۍ کــــې
پـــه قـــوت او موقعـــیت کـــې
خـــو د مینــــې په قضیـــــه کـــې
لکـــه ســـر یې هسې ســـر وې
مــا د خپـــل قـــدر و موقـــفـــه
ستـــا مـــوقف ننګـــینه نـــه کـړ
ستـــا اکـــرام مې راکـــم نـــه کړ
ځـــان مې خـــاک وګانه تـــا تـــه
خـــو د ژونـــد دا تقـــاضـــه وه
د روزګار نـــاخـــوالې راغـــلې
ته جیګ نه شوې خو زه ټیټ شوم
ستـــا غرور سر نـــه شـروع شو
دا زمـــا د سپـــــکې هڅـــــې
نظـــر ډک لــــه حقـــارتـــــه
لکـــه تـــه چې یې لـــوړشـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــام چې دا ګـــمان و نـــه کـړې
تـــه همغـــلتـــــه ثـــابت يـــې
زه راکـــوز ستـــا پـه سـويه شوم
خـــو دنيـــا ده زيست روزګار دی
کلـــــه ښکتـــه کلـــــه پـــورتـــه
بيـــا به مـــا بـــانـــدې سهـر شي
بيـــا بـــه وخيـــژم پـــه بـــره
خـــو بس دا بـــه درتـــه وايـــم
چې دا شتـــه سلـــوک دې هسې
د اعـــلام زړه ازار نـــه کـــړي
چـــرتـــه زه تـــا غـــوندې نه شم
چرتـــــه ځـــان رانـــه غټ نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حدود د صبر

کــــه د کـــبــــــر د اشنـــا دا انتهـــــا وي
ګمــــان نـــه کـــوم چې ډیر صعب په ما وي

مــــا تــــه خپــــل حـدود د صبر ښه معلوم دي
راشـــــړه یې کـــه نفـــرت وي کـــه جفا وي

کـــــه مقیــــاس د زغم د چشم زیبــــایی وي
زغم بـــــه کم د تمـــــام غم د دې دنیـــــا وي

عـــــاقبت ښـــــایي لـــــه مخکې نه معلوم دی
ورک بـــه زه یم کــــه پـه ما وي که په تا وي

زمــــا عشق د بهانـــــو محتــــاجه نـــه دی
بس صفت بـــه دې هغه وي چې رښتیــا وي

ما ویل زه بـــه ستـــا په نوم شمه خو ته شوې
د دنیــــا رسم جـــــدا د عشـــــق جـــــدا وي

کـــــه د کبـــــر لــــه زوالـــه مې ډار نـه وي
نــــو زمـــا به هم نــــازونـــه لکـــه ستـا وي

اوس که هر څنګه شې زړه کې د اعـــلام یې
تیـــروه یې کـــه تیـــاره وي کـــه رڼـا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظر

په ډیــر دیــدار خــو مې وصال هم د نظـره کړلو
بیــا مې نه ولیــدې او نـــه دې چـــرتـــه ولیـــــدمه
کـــه دا ګـــونا زمـــا د سترګـــو وي نو څـــه وکړمه
سترګې زما چرته مني خو بس زړګي ته ګوري
زمـــا یـــوه لحظه دیـــدن پـــه یـــاد کې پـاتې نه وي
رخصار دې هسې رانـــه هیر وي لکه نه دې وینم
ما پـــه دې نیت درتـــه کتلي چې په یاد دې کـــړمه
زمـــا نظـــــر زما دیدار د نظـــــر نـــه ښـــکاریده
خو داسې ښـــــکاري چې دیـــدار مو د نظره شولو
کلـــونه وشـــو چې بیـــا نه راځي او نـــه راګرځي

اوس وایـــه څه وکـــړمه څنــــګه نظرماتی وکړم
د اعلام زړه درته لوګی کړم که نظر به بس وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رحمت

عـــاشقي مې لـــه ازلـــــه
عــــاشقي مې تـــر ابـــده

زمونږ عشق له دواړه خوا دی
هغه هم پـــه مـــا شيـــدا دی

ما قـــدم ور ايښـــی نـــه وي
د هغـــه راتـــه کاتـــه وي

زه پـــه عشق کې ښه تنبـل يم
ور روان پـــه چـــل او ول يم

خـــو هغـــه راتـــه رحمت دی
او روان پـــه لطـــــافت دی

زه خطـــا شم آ مې سم کـړي
د زړه زخـــم مې مـرهم کړي

پـــه عمل مې ثـابت نه کـــړل
هغه څه کړل او ما څـه کـــړل

خـو په زړه کې مې مقـــام دی
او هميش مې ورتـــه پـــام دی

لـــه نامـــه نـــه يې قـــربان يم
پـــرې فدا پـــداسې شـــان يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې دومـــره کافـــي نــــه ده
پــــه عمــل کې مې چې څه ده

یــوه ورځ به زه هم ښـــــه شــم
خـــو د ښـــو جــوګه به نه شم

بس همـــدغــــه زنـــــدګي ده
بس همـــدغــــه عـــاشقي ده

چې دا رحـــــم په اعـــلام وي
ســــرپـــایـــانه به مـــــدام وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پښتون زړه

آغــاز کې مې تمــامه شــولــه مینـــه پـــه زړګي کې
انجام راتـــه ښـــکاره شو ستـــا د حسن په ماضي کې

په ستـــرګو دې چې وویني او ساتي دې پـه زړه کې
نـــو خـــود به دې الفت جانـانـه زړه چوي سړي کې

عجبـــه ده چې زه دنیـــاداری داسې مصروف کـــړم
نـــاکام شـــومه پـــه حسن کې پـــه حسن پـــرستي کې

زه داسې یـــم چې هیـر رانه دیدار شو په وصال کې
همـــدا به مې نصیب همـــدا لیـــکل وو په تنـــدي کې

کـــه دې ځلـــه رانغلې زه بـــه هم دربـــکاره نـــه شم
تـــاویږي دا خبـــره مې پښتـــون زړه غیـــــرتي کې

جنـــون مې پـــه رګـــونـــو کې بهیـــږي عمدي نه دی
مجنـــون شم چې تیـاره شي سم سړی شم سبایي کې

اعـــلام دی او همـــاغه ستـــا یـــادونـــه او دردونــه
کابـــل کې وي که فـــارس کې که عربو که ډیلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رنګ

ای د ګل متـــــــرادفـــــــه
زه دې تـــور لکه بلبـــل کړم
عجـــیبـــه خبـــــــره دا ده
سیـــاهي شوه رنګ کې ورکــه
کـــه قــانـــون د دې دنیـــا وي
رنګ ورکیـــږي سیـــاهۍ کې
نه د ستـــا حســن عـــادي دی
نـــه زمـــا مینـــه عـــادي ده
ستـــا غرور تـــر اسمان پورته
زمـــا عشـــق د ځمکې لانــدې
دا نـــو څـــرنګـــه انصاف شو
دا لا څنګـــه عـــاشقي شـــوه
تـــه به تـــه یې زه به ورک یم
تـــه به شته یې زه بـــه نـــه یم
خـــو کــه ګټـــه د ځـــان وینې
نو ما پرېږده چې زه سپیـــن شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ په سپین کې مشخص وي

هم بـــه تـــه شې هم بـــه زه شم

د رنګــونـــــو دې دنیـــا کې

د اعـــــلام وجـــود درغل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبه

لکـــه ګـــډې وډې وایـــم پـــه اشعـــارو
داسې ســـر یم ټولـــه ورځ په ګـــډو وډو

یا هندي وي یا اردو وي یا فارسي وي
یا لګیـــا یمـــه په جـــوړی او پـــه هډو

عـــربي شي انګـــریزي بې مـــوقعیتـــه
لانـــدې وتی یـــم تمـــامـــو تـــه په بډو

لـــه یـــوې ژبې نه ستـړی بل ته درومم
بس دی ستـــړی یم اعـــلام له ډیرو کډو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حيواني وجود

خـــاک يمـــه زه دوړه يم تـــراب يمـــه
کم يمه کـــمزور يمـــــه خـــــراب يمه

دغه حيـــواني وجـــود کې پـروت يمه
څـــه عـادي ترکيب د خـــاک و آب يمه

دا وجود چې ورځ تر بلې ضعف کـړي
دا وجـــود چې زر ځـــيني جـــواب يمه

دې کې خـــو غرور لـــره څـــه نه وينم
ولې به عـــــوامـــو تـــه جـــذاب يمـــه

دا وجـــود يـــواځې حيـــواني نـــه دی
عقـــل ورسره دی چې جنـــــاب يمـــه

څه منطق دليـــل خدای را زده کړی دی
لـــږ. څه محترس د خپـــل حســاب يمه

څـــه ځـــان کې الفت مينـــه وفـــا وينـم
ديـــد يمـــه تعبيـــر د يـــار د خواب يمه

ديـــن او فلســـفه دليـــل منطق لـــــرم
خپلـــــه منتخب يـــم انتخـــــاب يمـــه

اوس مې که احســـن او که اشرف بولي
زه اعـــلام لايق د دې دې خطـــاب يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انتظار

دغــه مینــه کــه هــوس وو
څــه پــه میــاشتــو په کلونو
څـــه غمـــونـــه او دردونـــه
څــه نــاخــوالې نــامــرادې
پـــه ما تیــرې شوې فراق کې
آن تر دې چې یې رنځور کړم
بیــا مې هم پـــه یــادیــدلې
ځـــوانې لاړه پـــه فکــرو کې
د وصـــال پـــه انتظـــار کې
خــو دا طمــه د دیــــدار وه
کــه حــوس پــکې شامل وو
دا چې اوس راتــه یــادیــږې
داسې ښـــکارې چې الفــت وو
خــو د عمــر تقـــاضـــه ده
کــه حــوس پــه کمیــدو دی
پــه ربښتیــا وایــه اعـــلامه
د وصـــال طمــه دې څـه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسن او ذکی

مــال سبــا بــه نن نه ښــه وي نن پـرون نه بدل نه دی
شـــکایت مې هم د شـــکر د تـــېرون نــه بـدل نـه دی

چې څــه یم هغه خو یم خو چې څـه نـه یم هغه غواړم
دا کـه حرص وي نو زما د وجود شتون نه بدل نه دی

د سبــا په انتظــار مې نن قــربان کــړ بــدل نــه شو
هم هغه یمـــه درون مې د بیـــرون نـــه بـــدل نـه دی

ژونده څومره درس به نور راکوې څومره منتظر شم
ستا دا هره نقطه درس ګـوره آزمـــون نه بـدل نه دی

ته د حسن په میزان بانـدې کـه هر څومره سنګین یې
نـــو زما ذکاوت هم د افـــلاطون نـــه بـــدل نــه دی

چې دا ولې بـــه کـــړیـــږم چې دا ولې بـــه زوریـــږم
د دې ولې جــــواب خپلـــه د جنـــون نـــه بـدل نه دی

هزارها ځــلې په شتـــو باندې مشکـــور یمه د زړه نه
خو دا شتــون مې هم تر ډیره د نه شتون نه بدل نه دی

تـــه یې درد ګڼې کـــه رنځ یې ګڼې دغـــه محبت دی
مـــا تــه دغــه درد و رنځ هم د سکـــون نه بدل نه دی

چې مې وویـــل بس و یې منـــه زه ګوره اعـــلام یم
د اعـــلام قـــول جـــانانـــه د قـــانون نــه بدل نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رڼا

ته رڼا يې زه سايه يم
ته رنګونه زه ساده يم

چې ډيرېږي نو توريږم
چې کميږي زه ورکيږم

که ته راشې زه نابود شم
که زه درشم زه نابود شم

ستا وجود د رنګه جوړ دی
او زما وجود تک تور دی

زه په ښي ته په چپ لاس شې
د خپو لاندې شم چې پاس شې

چې وجود مې ستا په شتون دی
عجيبه غوندې تړون دی

متکي زه تل په تا يم
منتظر ستا د وفا يم

خو ستا تک راتګ عادت دی
زما ورکه مجبوريت دی

عجيبه مو فلسفه ده
عجيبه غوندې کيسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا دار مــــدار پـــه تـا وي
ستـــا رنگـــونه پـــه ځلا وي

کـــه همـــدا مو زنــــدگي وي
غيـــابت بـــه مې عـــادي وي

طبيعت دی نـــه کمـــال ستـــا
دغې کـــبر تـــه زوال ستـــا

چې اعـــلام دعوه کـــوی شم
چې دې ټـــوله جـــذبـوی شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارقام

چې شهـرت مې ستــا په نـام شولو تمام
ښــه په نـــام شوم ستـا په نام هسې بدنام

بدنام زه شوم نـــام مې ونخښته تا باندې
هـــای غریبـــه فلـــسفه زمـــا د قـــام

د فـراق حساب مې نه دی درنه غوښتی
کـــه بلـــد یم په علـــــومـــو د ارقـــام

زه بـــه ستـــا په دوه خبرو څه خطا شم
پـــه کلـــو مې کـــړی ځـــان سره کلام

د ادب لــــه دایـــرې نـــه چې راوځم
طبیعت کې مې آشـــکاره دی مـــرام

ستا د سترګو نه نفرت هسې ښکاره دی
لکه عشق ښـــکاره زمـــا لـــه هر اندام

هـــر سهر دیـــدن تـــه داسې منتظر یم
پښیمان پـــه انتظـــار یـــم هـــر ماښام

تا ګیلې راوړي زه مجبـــور خاموش شم
ګني نقـــد جـــواب حـــاضر د هرکـــدام

په ستم دې څـــه ګلـــونه ټـــوکـــولي
یـــو یې تـــه یې یو یې زه یو یې اعـــلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خاني

په سر بار د زندګۍ په زړه کې ويره
د دنيا داد و ستد پسې سربيره

زه د دين شم که د عشق که د دنيا شم
زندګي په دې تشويش کې شوله تيره

زما وس کې بس همدوره مينه ځای وه
نور نو ته وايه چې لړه وه که ډيره

فقيری نه تر خانی پوره مزل وو
چې بيا راغلله خاني مې شوله هيره

ما نه تاو دي ستا غمونه او يادونه
او له تا نه تل زما دعا چاپيره

ځان ته څه ووايم څومره يمه څوک يم
جواني مې په پيری کې شوه راګيره

ستا کنځل لکه د ګل لکه د پاڼې
د اعلام خبره ستغه له شمشيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوب

خـــوبه مـــا ســـره دې ځنګـــه دشمني ده

یـــا دې نـــه وینم پـــه ستـــرګـــو په شهورو

یـــا مې نه پرېږدې دنیـا زیست و روزګار ته

یـــا دې تمه بانـــدې ناست تمـــامه شپـــه یم

یا چې راشې بیا دې زړه نه وي چې لاړ شې

د راتلـــو دلیـــل دې پوهـــه یـــم دارو دي

نه راتلل دې بې دلیلـــه غونـــدې ښـــکاري

چې راځې نـــو راته مه راوړه خـــوبـــونـــه

چې راوړې یې نو چې لړ خو مې په یاد وي

یـــا بـــه نـــاست یمه پـــه شپـــو په ساعتونو

یـــا به ستـــا د لاســـه پـــروت یم بې خبره

د دنیـــا کارونـــه پـــاتې ستـــا د لاســـه

د اشنـــا فکـــرونه پـــاتې ستـــا د لاسه

نـــو یـــا راشه لکـــه سم هر یـــو انسـان ته

او که نه راځې فکـــرونـــو تـــه مې پرېږده

پټ پټـــونی مې ستـــا نـــور د لاسه نـــه شي

لـــړ په سمه شه اعـــلام هم ستـــړی کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## صنم

زه صنــم نـــه یـــم دلبـــر یم
نـــه پـــه تشـــو یـــادولـــو
نـــه په لاس پـــه نـــوم لیکلو
د مجـــاز پـــه پیغـــامونـــو
نـــه لـــه لـــرې یـــادولـــو
پـــه دې یـــو نه خـــوشالیږم
دا مې یـــو هم پـه کار نه دي
زما بس وصـــال پـــکار دی
زه صنم نـــه یـــم انســـان یم
او احســـاس او حوس دواړه
طبیعي راکې پـــراتـــــه دي
ځه هوس مې تـــا نه ځار کړ
خو احســـاس مړ کوی نه شم
کـــه دعـــوه د انســـانیت وي
کـــه مجاز کې خـــدایي وي
دا مې حـــقِ مســـــلم دی
حقیـــــقي خـــدا راکـــړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـــو کـــه ته يې رانـــه اخلې
پـــه بدل کې يـــو څه راکړه

اعـلام دومره حريص نه دی
بس د يـــو وصـــال کيسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دین او دنیا

دیــن داري دنیــا داري د یو کار نوم دی
که دینــدار نه یم دنیــا رانــه خطــا ده
دنیــا دار که نــه یم دیــن مې هم دنیا ده
زه پــه ځمکــه وسم نــه بهشت برین کې
دیــن مې لاره د دنیــا د داد ستــد ده
او دنیــا مې عمــلي میــدان د دین دی
نــو زه څنګه دین بــدل کــړم له دنیا نه
چې یې دواړه راسپارلي خوا په خوا دي
د دیــن عــلم خپلــه علم د دنیــا دی
د دنیــا علــوم د دیــن لازمه بــرخــه
کــه زه یم نــو هم د دیــن هم د دنیــا یم
کــه د یــو یمه نو بیــا د یــو هم نه یم
دا خبــره د اعــــلام یــواځې نــه ده
دا خبــره هم د دیــن هم د دنیــــا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنهايي

که په جهان کې مې يو ته يې نو ته داسې نه يې
يــا بــه يو تــه نــه يې او يــا به زه ځوک نه لرمه

زمــا د عشق هــره خبــره رسيــدلې درتـــه
چې زه به ړونــد يم کــه له تا به دا تراخه لرمه

د وصل شپه مو پــه دعوو جنګــونو تيره کړله
نــو د هجــرانــه به ګيلــه نــوره په څــه لــرمه

ستا د تانو او پيغورونو زور مې زړه کې نشته
يا خــو ډير بد يم يــا په زړه کې درته ښه لرمه

زه خو قانع يم چې په ټولــو وعدو و نه دريدم
ته هم منـــه چې تکـــبر لکـــه د غـــره لـــرمه

چې د دنيـــا غمـــونه جمع کـــړم او تا ته راشم
چې ته يې نه وينې نـــو څنګـــه به خواږه لرمه

تـــا تـــه ګيلـــه د درد دل نـــوره کـــولی نـــه شم
شکـــر چې ستـــرګې لـــرم سر د زنګانه لـــرمه

خـــو په ګيلو او پيغـــورونو ژوندون نه تيريږي
تنها تشـــويش اعـــلامه ستـــا د ژوندانه لـــرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرور

د خپــل ځـــانه مــرور یم
خو عـــادت پـــه پخـلاینې
ځان به څــرنګه پخلا کړم
چې لـــه ځـــانه مــرور یم
کـــه اشنـــا نـــه مرور وی
نـــو ګیـــلې بـــه مې کولې
چې خبــر مې ولې نـــاخلي
په جـــرګـــه ولې رانغـــی
ننـــواتې ولې نـــه کـــړي
اوس خفـــه یمـــه لـه ځانه
ځان ته څنګه جرګه کیږي
ځان به څنګه پخلا کـیږي
ځان ته څنګه عذر کـیږي
خـــو یـــوه خبـــره بلـــه
دا یـــو زه مـــرور نـــه یم
دا ټــول خلک د خپل ځانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا شـــانتې مــرور دي
دا پـــه مـــا يـــواځې نه ده
خـو دا حل يې آخر څه دی
دا جــرګه به څنګــه کيږي
ځـــان به څنګه پخلا کيږي
کـــه جـــزا خامخـــا وينـــي
د دنيـــا خفـــه علـــمـــه
کـــومه لاره کـــه پيدا شوه
نو زه هم ګـــوره خفـــه يم
اعـلام هم ترينه خبر کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال پېژندنه

اکمل اعلام په ۱۳۶۶ کال کې په کابل کې زیږېدلی خو پلرنی ټاټوبی یې د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ د کان کلی دی. خپلې لومړنۍ زده کړې یې د مهاجرت په دوران کې له هیواده بهر سره ته رسولې. د دې ترڅنګ یې په ګڼ شمیر لنډ مهاله برنامو او کورسونو کې په پاکستان، عربی اماراتو او هندوستان کې ګډون کړی. د انجینرۍ په کچه د عالي تحصیلاتو تر څنګ، یو شمیر تصدیقونه (MCSE، MCITP، CCNA، CCNP، مالي محاسبې، ګرافیک او انیمیشن، د کمپیوټر په وسیله انجنیري ډیزاین، درې اړخیزه ماډلینګ) لري. ښاغلی اکمل د اعلام نړیوالو شرکتونو د ګروپ عمومي رییس دی چې په افغانستان، هندوستان، ایران او ارمنستان کې فعالیت کوي. نوموړی یو ځوان استعداد دی چې د معلوماتي او مخابراتو ټکنالوژۍ په برخه کې شپاړس کاله پرله پسې تجربه لري او د نړۍ له مخکښو ادارو سره یې په تخنیکي او اداري لوړو بستونو کې کار کړی. ښاغلی اعلام یو غښتلی سوداګر او یو باتجربه ډلمشر دی او په هیواد کې دننه او بهر یې ګڼ شمیر د معلوماتي ټکنالوژۍ تطبیقي او زیربنایي پروژې رهبري او په بریالیتوب سره بشپړې کړې چې د دولتونو، نړیوالو سازمانونو او لویو شرکتونو پورې یې اړه درلوده. اکمل اعلام په فارسي، پښتو، انګلیسي، عربي، اردو/هندي، تاجیکي (روسی لیک) او سویډني ژبو په لیکلو، لوستلو او ویلو پوره مهارت لري. ښاغلی اعلام یو لیکوال دی او ګڼ شمیر مقالې او طرحې یې لیکلې. د پښتو او اردو ژبو شاعر دی او نشر شوي کتابونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د لیکوال نشر شوي آثار

دا کتاب : پښتو شعري مجموعه، 1401/07/01
نیم رښتیا : پښتو شعري مجموعه، ISBN 978-9936-1-0628-4
بې وخته تقاضې : پښتو شعري مجموعه، ISBN 978-9936-1-0629-1
روشن سا اندهیرا : اردو شعري مجموعه. ISBN 978-9936-1-0630-7
وسپنیزه سیلو : انجنیري او ټکنالوژي، ISBN 978-9936-1-0627-7
طرحه او تطبیق : د جمهوري ریاست د پالیسۍ او ستراتیژۍ ادارې ډیجیټل سازي لیکلې طرحه او عملي تطبیق

څېړنیزه مقاله : د انسان او کمپیوټر تر مینځ تعامل د افغانستان د الکترونیکي حکومتدارۍ او ډیجیټل سازۍ په ناکامیدو کې یو اساسي عامل (په انګریزي ژبه)
څېړنیزه مقاله : هغه عاملونه چې په افغانستان کې د آی ټي او ای سي ټي پروژو په تطبیق یې اغیزه درلوده (په انګریزي ژبه)
مقاله : دین کې سیاست که سیاست په دین کې (په انګریزي ژبه)
مقاله : عبادت (په انګریزي ژبه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**